د افغانستان سره د آلمان همکاری
مطبوعاتی خبر

د عبدالغفار خان ژوند لیک اوس په پښتو او دري ژبو شتون لري

کابل، د ۱۳۹۵ کال د لیندۍ د میاشتې ۳۰ نیټه – نن به د پالیسۍ د څېړنو ملي مرکز د کابل په پوهنتون کې د "زما ژوند او مبارزه" تر سرلیک لاندې د عبدالغفار خان اتوبیوګرافي چې په دې وروستیو کې په پښتو او دري ژبو ژباړل شویده خپره کړي. د افغان-المان د همکارۍ د سولې د ملکي خدمتونو پروګرام د دې کتابونو د ژباړې د پاره مالي مرسته کړیده. دغه کتاب به دوه ځلې ۱۰۰۰ نسخې په پښتو او دري ژبو د نوموړي مرکز له خوا د مینه والو پوهانو د لاسرسۍ لپاره برابر شي.

عبدالغفار خان (۱۹۸۸-۱۸۹۰) چې په بادشاه خان هم معروف دی، په سیمه کې د سولې د فعالینو د پاره په یوه ارزښتناکه شخصیت بدل شویدی. د استعمار په وړاندې د بادشاه خان د تاوتریخوالي نه پرته مقاومت د اسلامي او دودیزو ارزښتونو پر بنسټ ولاړ وو. خلک تر ننې ورځې پورې هم د هغه د کړنو او چلند څخه الهام اخلي.

د پالیسۍ د څېړنو د ملي مرکز مشر پوهاند نورعباد په دې باب داسې وویل: "په تیره بیا د افغانستان د ځوانانو د پاره مونږ غواړو چې د بادشاه خان د اتوبیوګرافۍ نوې ژباړنې خپرې کړو. دغه کتاب د لومړي ځل د پاره اوس په دري او معاصرې پښتو شتون لري."

د لوړو زده کړو د وزارت سلاکار او د بادشاه خان په باب د بیلابیلو خپرونو لیکونکی ډاکټر یحیی وردګ زیاته کړه: "عبدالغفار خان تاوتریخوالی، او جهالت په خپله ټولنه کې د عمده ننګونو په توګه راوپیژندل. خو په خواشینۍ سره دغه ستونځې تر اوسه هم په افغانستان او د نړۍ په ډیرو نورو برخو کې شتون لري. له همدې امله، دا ډیره مهمه ده چې د عدم تشدد په باب د هغه نظریې له سره په پام کې ونیول شي ترڅو د بدلون د پاره هڅونې په لاس راشي."

د سولې د ملکي خدمتونو پروګرام (ZFD) چې د افغان-المان د همکارۍ د یوې برخې په توګه د المان د اقتصادی همکاریو او پراختیا د وزارت (BMZ) له خوا تمویلیږي، د بېلابېلو افغاني شریکانو سره په ګډه کار کوي. دغه پروګرام د ۲۰۱۴ کال راهیسې د سولې د پاره د افغان ځوانانو پروګرام پلې کوي. په دې برخه کې، نوموړی پروګرام ځوانو افغانی ښځو او نارینه وو ته د مشرتابه روزنه ورکووي او په افغاني پوهنتونونو کې سولې او د شخړو حلولو ته ترویج ورکوي.

Released by the PR-Unit of the German Cooperation with Afghanistan.
For further information please contact: pr-unit-afghanistan@giz.de